

Airbel Impact Lab
Research & Innovation at the IRC

INTERNATIONAL RESCUE COMMITTEE

# د ناورین په مرکز کې د ناورین د خطر کمولو (DRR) لپاره د دودیز او عصري میتودونو ترکیب:

د افغانستان او سومالیا قضیه

Rescue.org



د افغانستان د بادغیس ولایت د سنګ آتش په ولسوالۍ کې وچه ځمکه. که چیرې باران ونه شي، اوسیدونکي اوبو ته هیڅ لاسرسی نه لري - حتی د څښاک لپاره. دا انځور د اروپایي اتحادیې لخوا مالي ملاتړ شوی.

درې نړیوالې ننګونې لکه د اقلیم بدلون، بېوزلي او جګړه یوازې په ۱۷ هیوادونو کې د ناورین یو نوی مرکز جوړوي (**انځور ۱**). که څه هم ډېره اړتیا شتون لري، د اقلیم څخه زیانمونکې او د جګړې څخه اغېزمنې شوې ټولنې د ناورینونو پروړاندې د چمتووالي، غبرګون او بیارغونې لپاره اغېزمنو لارو چارو ته لاسرسی نه لري. دا تشه ټولنې ته زیان رسوي، د چاپېریال زیانونه زیاتوي او د بېوزلۍ او جګړې د زیاتېدو لامل کیږي چې وضعیت لا نور هم خرابوي. نن، موږ اټکل کوو چې د ناورین په مرکز کې شاوخوا ۵۳ میلیونه بزګران یا کروندګر د فقر تر کرښې[1] لاندې ژوند کوي او ۱٦۷ میلیونه کسان په خپلو ټولنو[2] کې د خوړو د خوندیتوب ستونزو سره مخ دي. دا ټولنې په اقلیمي بدلون کې خورا لږه ونډه لري؛ مګر د هغې اغېزې له امله خورا زیانمنې شوي. دوی د نړیوالو مشرانو لخوا له پامه غورځول شوي او ډېری وختونه د معمولو اقلیمي ستراتیژیو او پلانونو څخه محروم شوي او یادې ستراتیژۍ په ډیر باثباته سیمو باندې تمرکز کوي.

د کروندګرو/بزګرانو او سیمه ییزو شریکانو سره په همغږۍ کې، د Airbel Impact Lab، د آی آر سي د څېړنې او نوښت واحد او په هیوادونو کې د آی آر سي ټیمونه د لومړي ګام په توګه اوس مهال د ناورین په مرکز کې د کروندګره او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو لپاره د ناورین د خطر کمولو (DRR) لپاره د حل لارو رامنځته کولو، آزمایلو او اندازه کولو لپاره څېړنې ترسره کوي چې د خلکو پر اړتیاوو او ستونزو متمرکز دي. د څېړنې موخه دا ده چې محلي او دودیزه پوهه (LITK) د نوي ټکنالوژۍ سره یوځای کړي ترڅو د اقلیمي ستونزو او شخړو په حالاتو کې د چمتووالي، غبرګون او بیارغونې لپاره د DRR حل لارې رامنځته کړي چې د تنظیم وړ وي او په کې د ناورین ټول اړخونه شامل وي. بشري مرستو ته ډېره اړتیا او د دواړو هیوادونو په کلیوالي سیمو کې د ناورینونو د پام وړ اغېزو په پام کې نیولو سره، موږ دا کار په افغانستان او سومالیا هیوادونو کې د آی آر سي ټیمونو سره په ګډه پیلوو. په ګډه، موږ د لومړنیو حل لارو په اړه د نظریاتو یو لېست (بانک) رامنځته کړی چې دلته یې بیاکتنه شوې او موږ به په راتلونکي کال کې پر هغو

**انځور ۱:** د اقلیم، بېوزلۍ او شخړې تقاطع




*هغه هیوادونه چې د اقلیمي بدلون پر وړاندې ډیر زیات زیان منونکي دي مګر په شاخص کې درجه بندي شوي نه دي. سرچینه UNEP

1 د نړیوال بانک د معلوماتو له مخې، په هر هیواد کې د کرنې په برخه کې د کار کوونکو شمېر باندې د ملي بېوزلۍ د کچې د پلي کولو له لارې اټکل شوی.

2 د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزو چارو د څانګې د نفوسو د برخې د معلوماتو له مخې، د هر هیواد په کلیوالي سیمو کې د اوسېدونکو خلکو شمېر باندې د CPI د ملي خوراکي ناخوندیتوب کچو د پلي کولو له لارې اټکل شوی.



په سوماليا کې يوه څاه چې د آی آر سي لخوا کيندل شوې وه. مخکې له دې چې د آی آر سي ټيم د څاه برمه کول پيل کړي، دوی په ټولنه کې خلک راټول کړل او درې ورځې يې له دوی سره د وچکالۍ په پايله کې د دوی ترټولو لومړني اړتيا په اړه چې اوبه دي خبرې وکړې.

نظرياتو کار وکړو او ورته وده ورکړو چې ترټولو اغېزمن او برياليي دي. د حکومتونو، څو اړخيزو ادارو، همکارو سازمانونو او تمويل کوونکو لخوا ګډې هڅې ته اړتيا ده چې د ناورين په مرکز کې د اقليمي ستونزو پروړاندې د انعطاف يا مقاومت رامنځته کولو لپاره په هغو حل لارو کار وکړي چې د شخړو کمولو لپاره طرح شوي دي.

## د څېړنې موخې، ميتودونه او محدوده

په ۲۰۲۳ کال کې، د نړيوالې څېړنې او نوښت لومړيتوب د يوې برخې په توګه چې د اقليمي ناورين په وړاندې انعطاف يا مقاومت رامنځته کوونکي معيشت باندې تمرکز کوي، آی آر سي په افغانستان او سوماليا کې يو نوی ډيزاين نوښت په لاره واچاوه چې موخه يې DRR ته د کروندګرو/بزګرانو د لاسرسي لوړول دي چې د تنظيم وړ وي او په کې د ناورين ټول اړخونه شامل وي. د دې څېړنې موخه دا ده چې په دواړو هيوادونو کې د DRR په وړاندې ستونزې او خنډونه تحليل کړي او د دې محدوديتونو راکمولو لپاره فرصتونه او احتمالي حل لارې وپېژني. په ميتودونو کې د شواهدو او اسنادو بياکتنې؛ د محلي او نړيوالو متخصصينو سره چې د دولتي ادارو، غير دولتي سازمانونو (NGOs) او بين الحکومتي سازمانونو (IGOs) استازيتوب کوي کليدي معلوماتي مرکې (KII)؛ د کروندګرو او مالداره خلکو (دواړه نارينه او ښځينه) سره ډله ييز متمرکز بحثونه (FGD)؛ او په هيواد کې د آی آر سي د کرنې، معيشت او حکومتدارۍ تخنيکي ټيمونو او همدارنګه کروندګرو او مالداره خلکو لپاره د ورکشاپونو لړۍ شامل دي. موږ په خپلو موندنو کې ډيری ستراتيژيک او وړاندوينکي چوکاټونه پلي کړل ترڅو د ستونزې په اصلي لاملونو پوه شو او همدارنګه نوي ننګونې کمې کړو او د فرصتونو څخه ګټه پورته کړو.

## نړیوال پیل

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې موږ د ناورین په مرکز کې په ۱۷ هیوادونو کې په حل لارو کار کوو، موږ خپل تحلیل د نړیوال لنز/لید سره پیل کړ. موږ په ډیرو هغو هیوادونو کې چې ترټولو ډیر د اقلیمي ناورینونو په وړاندې زیانمنونکي دي او د شخړې له امله اغېزمن شوي دي د DRR پلي کولو لپاره ګډې ننګونې وموندلې (**انځور ۲**). په دې هیوادونو کې، دوه لومړنې ستونزې چې د اغېزمن DRR مخه نیسي: په ډېرې کرونده‌ګرو او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو کې **د DRR میتود بشپړ نشتون** او چېرې چې پلي کیږي **د موجوده DRR میتود نااغېزمنتوب**. په کرونده‌ګره او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو کې د DRR نشتون په مستقیم ډول د اوسني او تېرو شخړو له ننګونو سره تړاو لري، کوم چې د دولت بنسټیز ظرفیت، اراده، زېربنا او سرچینې محدودوي ترڅو لیرې پرتو کرونده‌ګرو او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو ته د DRR حل لارې رامنځته کړي چې په کې د ناورین ټول اړخونه شامل وي. د محدودو شته میتودونو نااغېزمنتوب چې اوس مهال پلي کیږي د محدود تخنیکي ظرفیت څخه رامنځته کیږي ترڅو په عصري او دودیزو طریقو یو خطر درک او ورته ځواب ورکړي. دا د بنکیلو خواوو ترمنځ د کمزوري همغږۍ او د چاپېریال اړوند او شته مالي فشارونو له امله نور هم زیاتیږي. په ټولیز ډول، دا فکتورونه د زیانمنونکو کرونده‌ګرو او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو ترمنځ د DRR جامع انتخابونه محدودوي. په نړیواله کچه، د تمویل دودیز میکانیزمونه په اغېزمنه توګه هغه سرچینې نه چمتو کوي چې په کرونده‌ګرو او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو کې د DRR د تطبیق وده ورکولو لپاره اړین دي (۱۴ - ۱۶ پاڼه وګورئ).

**انځور ۲**




هغه اصلي لاملونه چې په ژېړ رنګ کې روښانه شوي د DRR لپاره د عصري او دودیزو میتودونو یوځای کولو سره په بالقوه توګه کمېدی شي.

پردې علاوه، څېړنې یو لړ اړونده رجحانات یا بدلونونه رابرسېره کړل چې، د اوسنۍ ستونزې څخه علاوه، د هغو ستونزو او فرصتونو په اړه پوهه یا بصیرت وړاندې کوي چې موږ ممکن په نږدې راتلونکي کې ډیر ورسره مخ شو. هغه رجحانات یا بدلونونه چې د آی آر سي د څېړنې او نوښت واحد او په هیوادونو کې د آی آر سي تخنیکي ټیم کارمندانو لخوا پېژندل شوي او ترټولو ډیر لومړیتوب لري په لاندې برخه کې بیان شوي. ننګونې (Challenges) د LITK کمېدونکې اغېزمنتیا او پلي کولو پورې اړه لري، په داسې حال کې چې فرصتونه (Opportunities) په DRR کې د LITK زیاتېدونکي اهمیت او ټکنالوژیکي پرمختګ پورې اړه لري (**انځور ۳**).

د ستونزې د اصلي لاملونو تر څنګ، د دې بېړنیو ننګونو او فرصتونو په بیاکتنه کې د LITK ادغام او د DRR لپاره عصري ټکنالوژیکي میتودونو د اکتشاف د یوې بریالۍ تګلارې په توګه راپورته شوی. د پرمختللي وړاندوینکي او ډېټا لخوا پرمخ وړل شویو ټیکنالوژیو سره د دودیزو تمرینونو او د شرایطو اړوند ځانګړې او بډایه پوهې یوځای کول ممکن د LITK میتودونو ساتنې، دوامداره ټړاو یا اړیکې او پلي کولو کې مرسته وکړي؛ په داسې حال کې هغو ټکنالوژیو ته لاسرسی ښه کوي چې د یو ناورین پروړاندې چټک عمل رامنځته کوي. دا طریقه کولی شي د بېلابېلو فعالانو ترمنځ **تخنیکي ظرفیت (2A)** او **همغږي (2B)** ته وده ورکړي، **د چاپېریال فشار (2C)** زیاتوالي په وړاندې غبرګون یقیني کړي او **زېربنایي تشې (1B)** ډکې کړي ترڅو د هغوی **شتمنۍ او مالي سرچینې (2D)** خوندي کړي. د DRR د لا زیات انعطاف وړ ستراتیژۍ لپاره د مدرنیت او دود دا ترکیب د دواړو سیسټمونو پیاوړتیا څخه کار اخلي چې د افغانستان او سومالیا په څېر هیوادونو کې چې د شخړې له امله زیانمن شوي ځانګړې ننګونې په پام کې ونیسي. په هر حال، په بشپړ ډول د دې ننګونو درک کولو لپاره او بیا نورو ځانګړو احتمالي حل لارو پېژندلو لپاره، دا مهمه ده چې وڅېړل شي چې دوی په هر هیواد کې څنګه څرګندیږي.

**انځور ۳: راتلونکې کلیدي ننګونې او فرصتونه**



# په سیمه ییزه کچه: افغانستان




- **په نړۍ[1] کې** د بشري ناورینونو او آفاتو په وړاندې **دریم ترټولو د لوړ خطر هیواد**
- **په نړۍ[2] کې** د اقلیمي زیانمننې له پلوه **شپږم ترټولو ډیر زیانمنونکی هیواد**
- **۵.۷ میلیونه خلک** (د ټول نفوس تقریبا ۱۳.۵ سلنه) داخلي بېځایه شوي خلک دي (IDMC ۲۰۲۴)
- **۱.۴ میلیونه خلک** (د ټول نفوس تقریبا ۳.۳ سلنه) له ۲۰۰۰ کال راهیسې، هر کال د آفاتو له امله اغېزمن شوي (EM-DAT)
- **۱۴.۲ میلیونه خلک** (د ټول نفوس تقریبا ۳۳.۳ سلنه) له شدیدو خوراکي ستونزو سره مخ دي (د ۳ IPCایمه درجه یا له هغه ځخه پورته) (IPC ۲۰۲۴a)

۲۷ کلنه روزمه د افغانستان د بامیان ولایت د سبز آب بالا په کلي کې یو سیند ته د اوبو راټولولو لپاره ځي. د هغې د ډیرو ګاونډیانو په څېر، د هغې کورنۍ د ژوند کولو لپاره د کچالو او غنمو په کرلو تکیه کوي. دا انځور د اروپایي اتحادیې لخوا مالي ملاتړ شوی.

افغانستان، په جنوبي/منځنۍ آسیا کې یو په وچه کې ایسار هیواد دی چې د نیمه وچ ځخه تر وچ اقلیم او غرنۍ سیمې لري؛ د اقلیمي بدلون، جګړو او خورا بېوزلۍ په ګډون د یو بل پورې اړونده ناورینونو په مرکز کې دی او له دې امله د پېچلو ناورینونو یا آفاتو پر وړاندې خورا زیانمنونکی دی. دا هیواد د لسیزو جګړې یې زغملې دي چې په ۲۰۲۱ کال کې خپل اوج ته ورسېدې کله چې طالبانو (یا سرپرست حکومت [DFA]) واک په لاس کې واخیست، فعاله جګړه یې اداره کړه خو اقتصادي ناورین یې پیل کړ. دا بدلون د شخړو له امله د بېځایه کېدو د کموالي لامل شوی، خو اقتصادي یا د اقتصادي ستونزو له امله مهاجرت یې ډیر کړی. افغانستان د طبیعي پېښو په وړاندې ډیر حساس دی. د مثال په توګه، د ال نینو (The El Niño) شرایط په ۲۰۲۳-۲۰۲۴ کلونو کې د اوسط حد ځخه ښکته بارانونو لامل شوی او په ۳۰ کلونو کې د دریو پرله پسې کلونو وچکالۍ په پایله کې، په ۲۰۲۱/۲۰۲۲ کې تر ټولو بدې وچکالۍ د کرنې برخه سخته اغېزمنه کړه او خوراکي ستونزې یې شدیدې کړې (آی آر سي ۲۰۲۴a؛ FAO & OCHA، ۲۰۲۳؛ ۲۰۲۴ ،OCHA). په افغانستان کې د وچکالۍ خطر د نورو طبیعي پېښو لکه زلزلې، ځمکې ښوییدنې او سیلابونو د زیاتېدو له امله لا پسې ډیریږي. د ۲۰۲۳ کال په اکتوبر کې، په ځانګړې توګه سختې زلزلې په میلیونونو افغانان اغېزمن کړل او د ۲۰۲۴ کال په پیل کې د زلزلې لړۍ او د ۲۰۲۴ کال په مارچ کې لوی سیلابونه پېښ شول چې د ۲۵۰ کسانو ژوند یې واخیست (۲۰۲۴ .Essar et al؛ آی آر سي، ۲۰۲۴b).

د اقلیمي بدلون په وړاندې د افغانستان د منعطف او مقاوم پیاوړتیا رامنځته کولو لپاره د سیمه ییزو او نړیوالو فعالینو یا ادارو لخوا د مختلفو هڅو سره سره، په ټولنیزه، ملي او نړیوالو کچه د ناورین خطر کمول د یو شمېر یوبل پورې تړلې اصلي لاملونو له امله له ستونزو او ننګونو سره مخ ده. د نورو هیوادونو په څېر چې د اقلیمي بدلونونو په وړاندې زیانمنونکي دي او د شخړو له امله اغېزمن شوي دي، په افغانستان کې د ناورین د خطر کمولو ننګونې په ډیرو سیمو کې د DRR نوښتونو د بشپړ نشتون له امله رامنځته کیږي او په هغو سیمو کې چې د DRR نوښتونه شتون لري یادې ننګونې د DRR غیرمؤثر فعالیتونو له امله په سمه توګه نه مدیریت کیږي.

1. د INFORM د ۲۰۲۴ کال د خطر شاخص له مخې، چې د جوړښتي شرایطو پر بنسټ په ۱۹۱ هیوادونو کې د ناورین عمومي خطر درجه بندي کوي. INFORM یو ځو اړخیزه مرجع ده او د بشري ناورین او آفت مدیریت پورې اړوند د ګډ کمي (quantitative) تحلیلونو پراختیا لپاره، د بشردوستانه، پرمختیایي او بسپنه ورکوونکو سازمانونو او تخنیکي شریکانو ځخه جوړه ده. INFORM د ادارو ترمنځ د بشري غبرګونونو لپاره د ملاتړ کمېټې (IASC)، د خطر، د ناورین په اړه د مخکینۍ خبرتیا او چمتووالي ډلې او د اروپا کمیسیون سره په ګډه کار کوي.
2. د ۲۰۲۳ کال د نوټر ډېم (Notre Dame) د ناورین سره د مقابلې د نړیوال نوښت شاخص (ND-GAIN) په اساس، کوم چې د اقلیمي بدلون سره د مقابلې لپاره د یو هیواد زیانمنتیا او چمتووالی ارزوي.



ترانسپورت، مخابرات او نورې مهمې زېربناوې د سېلابونو، ځمکې ښوېدنې او زلزلو له امله اغېزمن شوي.

۲۵ کلن محمد صادق د خپلې کورنۍ لپاره د اوبو موندلو لپاره د یو وچ سیند له منځه تیریږي. هغه د مالدارۍ او د پستې کرلو له لارې خپل ژوند مخ ته وړي؛ خو د ژمي سخته وچکالي د هغه د ښه حاصلاتو مخه نیسي او د څارویو لپاره کافي اوبو ته لاسرسی ستونزمن کوي. دا انځور د اروپايي اتحادیې لخوا مالي ملاتړ شوی.

## اصلي لامل ۱: د DRR نشتون

په افغانستان کې، د DRR د مؤثرو ستراتېژيو نشتون د ډېر محدود **اداري یا بنسټيز ظرفيت (1A)** له امله دی کوم چې د دوامداره څو لسيزې شخړې پايله ده. ياده اوږدمهاله بې ثباتي د اقتصادي ودې او بنسټيز پرمختګ مخه نيولې ده، چې په پايله کې يې د DRR په هڅو او پراخو پرمختيايي نوښتونو کې د حکومت د ګډون لپاره خنډ ګرځي (ساجد، ۲۰۲۳؛ سيرت، ۲۰۲۳). په داسې حال کې چې افغانستان له ۲۰۰۳ کال راهيسې هڅه کړې چې، د طبيعي پېښو سره د مبارزې نوي ملي پلان، د ۲۰۱۱ کال د ملي پېښو په وړاندې د غبرګون قانون، مديريت او چمتووالی، د ستراتيژيک ملي عملياتي پلان او د افغانستان د ناورين د خطر کمولو ملي ستراتيژۍ په شمول، د DRR پاليسي او بنسټيز چوکاټ ته وده ورکړي، خو د دې چوکاټ پلي کول د محدودو سرچينو او کمزورو بنسټونو او ادارو له امله له خنډ سره مخامخ شوی دی (1A). په ۲۰۲۱ کال کې د سرپرست حکومت واک ته د رسېدو وروسته کوم چې د اقتصادي سقوط او د کليدي پرمختيايي بوديجې – چې د عامه لګښتونو شاوخوا ۷۵ سلنه يې جوړوله – د له لاسه ورکولو لامل شو، اقتصادي او بنسټيزې ستونزې يا ننګونې لا زياتې شوي (ګيفين، ۲۰۲۲). په ۲۰۲۲ کال کې د سرپرست حکومت لخواه په غيردولتي مؤسسو کې د ښځو پر کار بنديز ناورين لا پسې خراب کړ، کوم چې د نړيوالو سازمانونو او لويو تمويل کوونکو د پروګرامونو د ځنډېدو لامل شو (ګيفين، ۲۰۲۲؛ آی آر سي ۲۰۲۳a؛ UNDRR ۲۰۲۰). د ۲۰۲۳ کال په اوږدو کې اقتصادي وده په ټپه ودرېده او، د بنديزونو او نړيوالو محدوديتونو له امله چې افغانستان يې منزوي کړ او د مرکزي بانک شتمنۍ يې کنګل کړې، بهرنۍ مالي مرستې په جدي توګه محدودې شوې (ګيفين، ۲۰۲۲). په ځانګړې توګه د DRR او د ناورين څخه وروسته د مرستې او بيارغونې په برخه کې، د سرپرست حکومت پاليسيو او اړونده اقتصادي بحرانونو بنسټيز ظرفيتونه يې ډېر کم کړي (D'Souza، ۲۰۲۴؛ الجزيره، ۲۰۲۲؛ آی آر سي ۲۰۲۴a).

تخريب شوې **زېربناوې (1B)** د ناورين پر وړاندې د افغانستان زيانمنتيا نوره هم زياتوي. ترانسپورت، مخابرات او نورې مهمې زيربناوې د سېلابونو، ځمکې ښويېدنې او زلزلو له امله اغېزمن شوي چې د مرستو رسولو مخه يې نيولې او بشري ناورينونه يې لا پسې زيات کړي دي (آی آر سي ۲۰۲۴a). زېربنايي محدوديتونه په ښاري او کليوالي DRR دواړو کې ننګونې تشديدوي. په داسې حال کې چې زموږ څېړنه پر کروندګره او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو او کليوالي چاپېريال باندې متمرکزه ده، دا هم مهمه ده چې ومنو چې د افغانستان ښاري ټولنې، چې ډېری داخلي بېځايه شوي کسان په کې په غيررسمي استوګنځايونو کې ژوند کوي، اړينو زېربناوو ته د ناکافي لاسرسي له امله د ناورين له لوی خطر سره مخ دي (OCHA، ۲۰۲۳). په ورته حال کې، په لرې پرتو کليوالو سيمو کې د سړکونو او نورو مهمو زېربناوو خرابېدل د طبيعي پېښو پر مهال او وروسته د دوی زيانمنتيا لا زياتوي. په پای کې، **محدودې مالي سرچينې (1C)**، چې د اقتصادي سقوط او نړيوالو بنديزونو له امله لا خراب شوي، د اغېزمن DRR په وړاندې يو

مهم خنډ دی. په ټولنیزو لګښتونو کې شدید کمښت او د مرکزي بانک کنګل شوي پیسې د ناورین د اغېزو کمولو او د زیانمنونکو خلکو ملاتړ لپاره د هیواد یا دولت وړتیا نوره هم محدودوي (آی آر سي، ۲۰۲۲؛ ګیفین، ۲۰۲۲).

## اصلي لامل ۲: نااغېزمن DRR

په ځینو ځایونو کې د DRR پروګرامونه شتون لري، مګر اکثرا نااغېزمن وي یا خورا زیانمنونکو ټولنو ته نه رسیږي. د نااغېزمن DRR لومړنی محرک په دواړو عصري او دودیزو میتودونو کې **د تخنیکي ظرفیت نشتوالی (2A)** دی. **د DRR په عصري طریقو یا میتودونو** کې، د ۲۰۲۲ راهیسې د اکادمیک شخصیتونو او متخصصینو، په ځانګړې توګه د مېرمنو، په لویه پیمانه وتل، په افغانستان کې د ماهرو خلکو دوامداره ضایعه لا شدیده کړې او هغه بنسټیزه او تخنیکي پوهه یې له منځه وړې چې د یو پروګرام په بریالي توګه پلي کولو لپاره خورا مهم دي (کمار، ۲۰۲۴). پر دې علاوه، د پوهاوي او انعطاف د رامنځته کولو لپاره د زده کړې سیسټمونه د ناورینونو د پرله پسې خنډونو له امله خورا ډېر اغېزمن شوي. دا ستونزه د ناکافي تمویل او ناخوندي زېربنا له امله لا پسې زیاتیږي. په پایله کې، د ماهرو کارکوونکو کمښت د ناورینونو پر مهال او وروسته د اړینو خدماتو وړاندې کول نور هم کمزوري کوي (UNDRR، ۲۰۲۰). له بلې خوا، د پراخې بېوزلۍ او بېځایه کېدو له امله **DRR ته د LITK میتودونه** په لویه کچه له پامه غورځېدلي یا پرېښودل شوي (باریز، ۲۰۲۳). بېځایه شوي ټولنې اکثرا له خپلو ځمکو څخه لرې وي او د غیررسمي یا بې ثباته ژوند شرایطو له امله دوی د دې میتودونو اغېزمنې کارونې لپاره سیاسي ځواک یا اداره نه لري. له خوندي ځمکې یا بنسټیزو خدماتو پرته، په غیررسمي استوګنځایونو کې ژوند کول د بېځایه شویو ټولنو لپاره د دودیزو فعالیتونو ترسره کول ستونزمنوي، چې دا حالت دوی په ځانګړې توګه د آفتونو په جریان کې او وروسته زیانمنونکي پرېږدي.

د شریکانو ترمنځ **محدوده همغږي (2B)** د اغېزمن DRR پلي کولو پر وړاندې ننګونې لا پسې زیاتوي. کمزوره حکومتولي او د ځمکې د مدیریت لپاره ناکافي تګلارې د ناورین خطرونه زیات کړي دي چې د سرپرست حکومت لخوا په ټولنیزو خدماتو کې د لګښتونو کمښت او د ۲۰۲۱ راهیسې د DRR هڅو ناکافي لومړیتوب ورکولو له امله یادې ستونزې لا زیاتې شوي (آی آر سي، ۲۰۲۲؛ کمار، ۲۰۲۴؛ سیرت، ۲۰۲۳). د تودوخې د زیاتوالي او د هوا د ناسمو حالاتو په شمول، په ځانګړې توګه په لرې پرتو سیمو کې چې د سرچینو او پوهاوي نشتوالی دی، **د چاپېریال فشار (2C)** د وچکالۍ او سېلابونو فریکونسۍ او شدت زیاتوي، د ټولنې انعطاف او مقاومت کمزوری کوي او زیانمنتیاوې زیاتوي (UNDRR، ۲۰۲۰؛ OCHA، ۲۰۲۴؛ ARC، ۲۰۱۶). دا اندېښنه د دې حقیقت له امله لا زیاته شوې چې نږدې ۶۰ سلنه نفوس په للمي کرنه یا زراعت (rain-fed agriculture) تکیه کوي، چې دا هیواد د اقلیمي بدلون له امله د مکررې وچکالۍ پر وړاندې خورا حساس کوي (CAP ۲۰۲۴؛ OCHA ۲۰۲۴). د کورنۍ په کچه **د مالي سرچینو نشتوالی (2D)**، چې د پراخې بېوزلۍ او ناخوندي دندې له امله دی، د انعطاف او مقاومت رامنځته کولو هڅې هم ځنډوي چې زیانمنونکی نفوس د ناورین د اغېزو سره ډېر مخ کوي (آی آر سي، ۲۰۲۲؛ د ښارونو اتحادیه، ۲۰۲۱). په ورته وخت کې، په ځانګړې توګه ښاري کېدل چې د شخړو او طبیعي آفتونو له امله دی، د غیررسمي استوګنځایونو د پراختیا یا تکثیر لامل شوی چې اړین زېربناوې او خدمات نه لري کوم چې کېدای شي د آفتونو په وړاندې د ښاري زیانمنتیا د زیاتوالي لامل شي (UNDRR، ۲۰۲۰؛ OCHA، ۲۰۲۳). په پای کې، ټولنیزې زیانمنتیاوې د آفتونو خطر لا زیاتوي او اغېزمن DRR ته په ځانګړې توګه د ښځو، ځوانانو، معلولیت لرونکو کسانو، توکمیز یا قومي لږکیو او منزوي شویو یا محرومو ډلو لاسرسی ستونزمنوي.



۳۵ کلن خان اغا او د هغه ۷ کلنه لور زرمینه د افغانستان د لغمان ولایت په مهترلام ولسوالۍ کې د خپل ویجاړ شوي کور مخې ته ولاړ دي. د ۲۰۲۴ کال په اپریل میاشت کې په ټول افغانستان کې د سختو بارانونو او سېلابونو له امله نږدې ۳۰۰۰ کورونه ویجاړ او یا هم زیانمن شوي وو.

# په سیمه ییزه کچه: سومالیا




- **په نړۍ کې** د بشري ناورینونو او آفاتو په وړاندې **دویم ترټولو د لوړ خطر هیواد**
- **په نړۍ کې** د اقلیمي زیانمننې له پلوه **اووم ترټولو ډیر زیانمنونکی هیواد**
- **۳.۹ میلیونه خلک** (د ټول نفوس تقریبا ۲۱.۵ سلنه) داخلي بېځایه شوي خلک دي (IDMC ۲۰۲۴)
- **۱.۵ میلیونه خلک** (د ټول نفوس تقریبا ۸ سلنه) له ۲۰۰۰ کال راهیسې، هر کال د آفاتو له امله اغېزمن شوي (EM-DAT)
- **۴ میلیونه خلک** (د ټول نفوس تقریبا ۲۱ سلنه) له شدیدو خوراکي ستونزو سره مخ دي (د ۳ IPCایمه درجه یا له هغه څخه پورته) (IPC ۲۰۲۴b)

۲۷ کلنه فرتون د سومالیا په دوسماریب سیمه کې ژوند کوي، چیرې چې د اوږدې وچکالۍ له امله د ۵ کلونو څخه کم عمره ۱.۷ میلیونه ماشومان له شدیدې خوارځواکۍ سره مخ دي. کله چې د هغې د پنځو ماشومانو څخه تر ټولو کوچني ماشوم کې د سختې خوارځواکۍ نښې څرګندې شوې، هغې خپل ماشوم هغه روغتون ته یوړله چې د آی آر سي لخوا ملاتړ کیده او هلته یې درملنه وشوه.

سومالیا، چې د افریقا کې یو وچ اقلیم لرونکی هیواد دی، په وروستیو څلورو لسیزو کې تر ټولو بدې وچکالۍ سره مخ شو چې په پایله کې یې ۴۳۰۰۰ کسان ووژل شول، له یو میلیون څخه زیات یې بېځایه شول او د ۳.۸ میلیونو څارویو د له منځه تلو لامل شو (تي آر تي افریقا، ۲۰۲۴). پردې علاوه، سیلابونه په ټول هیواد کې د ناورین د پام وړ خطر رامنځته کوي. د ۲۰۲۳ کال ډییر (Deyr) سیلابونو ۱.۲ میلیونه خلک بېځایه کړل او د ۱۷۶ میلیونه ډالرو څخه یې ډیر مالي زیانونه واړول. په ۲۰۲۳ کال کې شدیدو سیلابونو د کولرا ناروغۍ رامنځته کړه چې زیانمنونکی نفوس په ځانګړې توګه ماشومان یې په جدي توګه اغېزمن کړي (UNDP، ۲۰۲۴؛ آی آر سي، ۲۰۲۴). د سومالیا ټولیزې زیانمنتیاوې د خوړو او اوبو ناخوندیتوب او د عامې روغتیا ناورینونه لوړوي او په غیرمتناسب ډول د ښځو او نجونو، توکمیز یا قومي لږکیو او معلولیت لرونکو خلکو په ګډون په محرومو ډلو اغېزه کوي (USAID، ۲۰۲۴).

همدارنګه، د سومالیا اقتصاد په پراخه کچه په کرنې تکیه لري چې په کې د نفوس ۸۰ سلنه په کار بوخته ده او له دې ارخه یاد هیواد د طبیعي پیښو او اقلیمي شاکونو په وړاندې خورا زیانمنونکی دی. د څارویو ساتل او مالداري، چې د اقتصاد لپاره ډیر مهم دي، د وچکالۍ، ملخانو او د ځمکې پر سر د شخړو له ګواښونو سره مخ دي، کوم چې د خوړو ناخوندیتوب او د خلکو زیانمنتیا لا پسې زیاتوي (FAO، ۲۰۲۲؛ Wong، ۲۰۲۳).

د اقلیمي بدلون په وړاندې د سومالیې لپاره د منعطف او مقاوم پیاوړتیا رامنځته کولو لپاره د سومالیې حکومت او د مختلفو پرمختیایي فعالینو یا ادارو لخوا د مختلفو هڅو سره سره، په ملي او نړیواله کچه د ناورین خطر کمول د یو شمېر یوبل پورې تړلې اصلي لاملونو له امله له ستونزو او ننګونو سره مخ ده. د نورو هیوادونو په څېر چې د اقلیمي بدلونونو په وړاندې زیانمنونکي دي او د شخړو له امله اغېزمن شوي دي، په سومالیا کې د ناورین د خطر کمولو ننګونې په ډیرې سیمو کې د DRR نوښتونو د بشپړ نشتون له امله رامنځته کیږي او په هغو سیمو کې چې د DRR نوښتونه شتون لري یادې ننګونې د DRR غیرموثر فعالیتونو له امله په سمه توګه نه مدیریت کیږي.

## اصلي لامل ۱: د DRR نشتون

د لسیزو کورنۍ جګړې او بې ثباتۍ د سومالیا **بنسټیز یا اداري ظرفیت (1A)** په جدي توګه محدود کړی چې د ناورینونو څارنه او ورته غبرګون یې (چې د DRR لپاره اړین دي) ستونزمن کړی (USAID، ۲۰۲۴). همدارنګه، په ۲۰۱۰ کال کې د کیوټو پروټوکول (Kyoto Protocol) له تصویب راهیسې، سومالیا د ناورین د خطر کمولو (DRR) پالیسیو وده ورکولو لپاره کار کړی چې په کې

د سینډای چوکاټ غوره کول، UNFCCC ته د خپلې لومړنۍ ټاکل شوې ملي پلان (NDC) سپارل او په ۲۰۲۲ کال کې د چاپېریال او اقلیمي بدلون وزارت (MoECC) تأسیس کول شامل دي؛ مګر محدود بنسټیز یا اداري ظرفیت او سرچینې د اغېزمن تطبیق مخه نیولې. د ځمکې پر سر شخړې او کمزوري بنسټونه یا اداري ځمکې ته د نامساوي لاسرسي لامل شوي او کوچني بزګران او مالداران یې بېځایه کړي دي (USAID، ۲۰۲۴؛ ادلفي، ۲۰۲۲؛ دي زویسا او ټای، ۲۰۲۳). دا په ځانګړې توګه د سویلي سومالیا په اړه صدق کوي، چیرې چې ډېری برخې یې د الشباب ترهګرې ډلې لخوا کنټرول کیږي او چیرې چې د هیواد ډېری کرنه په کې ترسره کیږي، فعالیت محدود دی او په ځانګړې توګه عامه خدمات اغېزمن شوي دي (آروش، ۲۰۲۴؛ علي، ۲۰۲۴؛ USAID، ۲۰۲۴).

په سومالیا کې رواني جګړې او پرله پسې طبیعي پېښو شته **زیربناوې (1B)** شدیدا خرابې کړې – له ترانسپورټ څخه نیولې تر ارتباطاتو او کرنیز سیستمونو پورې – او په ځانګړې توګه په لرې پرتو او کلیوالو سیمو کې د زېربنا د ساتنې او نوې زېربنایي پراختیا مخه یې نیولې (ادلفي، ۲۰۲۲؛ ورهوفن، ۲۰۲۴). د اقلیمي بدلون وړاندوینې ښایي چې د طبیعي پېښو شدت به د سومالیا زېربنا نوره هم اغېزمنه کړي چې د ناورین خطرونه به لا پسې زیات کړي (ادلفي، ۲۰۲۲). یاد هیواد د سړکونو د شبکې په برخه کې د پام وړ ننګونو سره مخ دی: یوازې ۱۳ سلنه سړکونه پاخه شوي او ۹۰ سلنه یې په خراب حالت کې دي. دا د سېلابونو او باراني موسمونو پر مهال ټولنو ته د لاسرسي مخه نیسي او هغوی د ملاتړ د ترلاسه کولو څخه محرومو (ITA، ۲۰۲۴؛ ادلفي، ۲۰۲۲). سومالیا د څارنې مهمې زېربناوې، لکه د هوا حالاتو د وړاندوینې مرکزونه او د ډېټا یا معلوماتو سیسټمونه، نه لري چې د یاد هیواد په ډېری برخو کې د هوا حالاتو اړوند دقیقو معلوماتو ته لاسرسی او د پېښو په وړاندې چمتووالی محدودوي (Quevedo et al، ۲۰۲۳). که څه هم زموږ څېړنه پر کروندګرو او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو او کلیوالي چاپېریال باندې متمرکزه ده، دا هم مهمه ده چې ومنو چې په چټکه توګه د سومالیا ښاري کېدل نوې ننګونې رامنځته کوي ځکه چې بېځایه شوي خلک د خوندیتوب او فرصت په لټه کې ځینې ښارونو لکه موګادیشو، بوراما او بیدوا ته مهاجرت کوي (د ښارونو اتحادیه، ۲۰۲۱؛ ادلفي، ۲۰۲۲؛ آروش، ۲۰۲۴). دا په سومالیا کې اغېزمن DRR نور هم پېچلې کوي ځکه چې په ښارونو کې غیررسمي استوګنې د ښاروالۍ پر خدمتونو فشار راوړي (عبدي شیخ او وینګارټنر، ۲۰۲۲؛ Taruri et al، ۲۰۲۰). پر ښارونو د کډوالو هجوم د ځمکې پر سر تاوتریخوالی زیاتوي، اړینو سرچینو ته لاسرسی محدودوي او د کوربه او بېځایه شویو خلکو د اړتیاوو مدیریت پېچلی کوي. **مالي محدودیتونه (1C)** د DRR هڅې نور هم له خنډ سره مخ کوي: سومالیا د اقلیم سره د ځان عیارولو او انعطاف او مقاومت رامنځته کولو لپاره، په ملي او نړیواله کچه، د مالي ملاتړ لاسته راوړلو کې ستونزې لري او ډېری وختونه د اوږدمهاله حل لارو پرځای په فوري اړتیاوو چې محدودو سرچینو ته اړتیا لري، تمرکز کوي (دي زویسا او ټای، ۲۰۲۳؛ Quevedo et al، ۲۰۲۳).

## اصلي لامل ۲: نااغېزمن DRR

ناکافي **تخنیکي ظرفیت (2A)** په سومالیا کې د DRR لپاره عصري او دوديزې تګلارې دواړه له خنډ سره مخ کوي چې د نااغېزمن پروګرام لامل کیږي کوم چې ډېری وختونه زیانمنونکو ټولنو ته په رسېدنه کې پاتې راځي. په ځانګړې توګه، د دولت د هوا پېژندنې په څانګې او د خبرتیا په سیسټمونو کې نیمګړتیاوې د ناورین په اړه د پر وخت خبرتیا مخه نیسي، کوم چې د اغېزمن شویو ټولنو ترمنځ د بې باورۍ فضا رامنځته کوي (عبدي شیخ او وینګارټنر، ۲۰۲۲؛ محمد او سکونز، ۲۰۲۳). محدود معلومات یا ډېټا راټولول **د DRR لپاره عصري تګلارې** نور هم کمزورې کوي، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې د ناورین له خطر سره مخ دي او په یاد معلومات یا ډېټا تکیه کوي؛ په عین حال کې، **د LITK تګلارې** د نسلونو ترمنځ د پوهې د نشتوالي له امله له خنډونو سره مخ کیږي. دا ټول د بېځایه کېدو او د اقلیم د بدلون له امله رامنځته شوي ابهاماتو له امله بدتر شوي (UNDRR، ۲۰۲۴؛ علي، ۲۰۲۴؛ نصیب، ۲۰۲۴).

د اقلیمي بدلون په وړاندې د چمتووالي لپاره د قوي پالیسۍ چوکاټ سره سره، په مختلفو کچو کې د حکومت او نورو فعالینو یا ادارو ترمنځ **محدوده همغږي (2B)** په سومالیا کې د DRR اغېزمن تطبیق له ننګونو سره مخ کوي. محدود بنسټیز یا اداری ظرفیت او همغږي او پر ټولنې متمرکز د اقلیمي بدلون او ناورین په وړاندې د انعطاف او مقاومت محدوده پلان جوړونه د DRR اغېزه تر ډېره حده کموي (دي زویسا او ټای، ۲۰۲۳؛ ورهوفن، ۲۰۲۴). په سویلي سومالیا کې امنیتي خطرونه نور هم د فعالیت لپاره خنډ رامنځته کوی، کوم چې د اغېزمنې همغږۍ او DRR مخه نیسي (آروش، ۲۰۲۴؛ علي، ۲۰۲۴؛ عبدی شیخ او وینګارټنر، ۲۰۲۲). د تودوخې د زیاتوالي او د هوا د ناسمو حالاتو په شمول، **د چاپېریال فشار (2C)** د DRR لپاره ننګونې لا پسې زیاتوي: د جوبا او شابیل په شمول، مهم سیندونه د باران د نشتوالي او په ایتوپیا کې د بندونو د جوړوېدو له امله له ګواښ سره مخ دي، کوم چې په ډېر احتمال کولی شي د اوبو پر سر شخړې زیاتې کړي (سګلیوکو، ۲۰۲۴؛ ۲۰۲۴ ، USAID؛ ادلفي، ۲۰۲۲). په پای کې، د کورنۍ په کچه **د مالي سرچینو (2D)** نشتوالی په جدي توګه DRR محدودوي. بېوزله او جګړه ځپلې کورنۍ نه کولی شي د ناورین په وړاندې انعطاف او مقاومت رامنځته کړي او د ځینو زیان رسوونکو کړنو لکه د لرګیو د سکارو تولید او څړځایونو یا مالچرو د بې حده کارونې لامل کیږي، کوم چې کولی شي طبیعي سرچینې کمې کړي او د وچکالۍ او د دښتونو د رامنځته کېدو (Desertification) په وړاندې زیانمنتیا زیاته کړي (د ښارونو اتحادیه، ۲۰۲۱؛ انجنګا، ۲۰۲۴؛ علي، ۲۰۲۴؛ ادلفي، ۲۰۲۲). د بېلګې په توګه، د ملګرو ملتونو د دښتونو د رامنځته کېدو سره د مبارزې کنوانسیون (UNCCD) په وینا، نږدې ۸.۲ میلیونه ونې یوازې د ۲۰۱۱ او ۲۰۱۷ کلونو ترمنځ په سومالیا کې د سکارو د تولید لپاره پرې شوي (کاهییه، ۲۰۲۱).

## د یو ټول شموله او د تنظیم وړ DRR په لور

د دې لپاره چې معلومه کړو چې موږ څنګه کولی شو دودیز او عصري طریقې د DRR سره مدغم کړو ترڅو په افغانستان او سومالیا کې د کروندګرو او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو لپاره د اقلیمي بدلون او ناورین په وړاندې ټول شموله او د تنظیم وړ انعطاف او مقاومت ته وده ورکړو، موږ د هغه څه له مخې پیل وکړ چې له وړاندې شتون درلود. د دقیقو بحثونو، څېړنو، د سیمه ییزو او نړیوالو متخصصینو سره د کلیدي معلوماتي مرکو او د آنلاین عامه نظرپوښتلو له لارې، موږ د DRR لپاره د ټکنالوژۍ-محوره میتودونو او د LITK میتودونو یوه پراخه لړۍ وړاندې کړه. بیا مو (1) د افغانستان او سومالیا له شرایطو سره د تړاو ؛ (2) د سیلاب، وچکالۍ، نامنظمو بارانونو او تودوخې پرمهال د دوی د تطبیق؛ او یوازې د ټکنالوژۍ حل لارو لپاره، (3) د LITK مستند کولو، پراختیا یا فعالولو لپاره د دوی د پوتانسیل پر بنسټ دغو تګلارو ته لومړیتوب ورکړ.

په پای کې، د آی آر سي تخنیکي او نوښتګرو ټیمونو او د افغانستان او سومالیا ټیمونو سره د ډیزاین ورکشاپونو یوې لړۍ له لارې، موږ لومړیتوب ورکړل شوې ټکنالوژیکي او LITK میتودونه یوځای کړل او له یو بل سره مو انډول کړل ترڅو د لومړنیو شپږو حل لارو په اړه د نظریاتو یو لېست (بانک) ته ورسېږو (**انځور ۴**) چې هر یو نظر د ستونزې مختلف اصلي لامل په ګوته کوي (**انځور ۲**). لاندینی چارټ د حل لارو په اړه زموږ د نظریاتو د یو لېست (بانک) عمومي کتنه ده:

### انځور ۴. د لومړنیو حل لارو په اړه د نظریاتو لېست (بانک)

| 1 | د حل لارې په اړه نظر: د LITK ټکنالوژیکي تفسیر او د مشرانو مشاهدې (*همدارنګه یوه پروسه چې په نورو حل لارو کې مدغم کېدی شي) | SOM AFG پورې اړوند |
|---|---|---|
| څه یا کومه ستونزه حل کوي | د LITK له لارې د هوا او اقلیمي بدلونونو مشاهدې ډېر وختونه د ځایي سیمو لپاره دي او په ورته وخت کې د ټکنالوژیکي وړاندوینو د ملاتړ لپاره نه راټولیږي یا نه تحلیل کیږي. | |
| څنګه کار کوي | د LITK ټاکل شوي خاوندان خپلې مشاهدې او وړاندوینې مستند کوي یا ثبتوي، کوم چې د ریموټ امیجنګ (د لرې واټن انځورګر سیستم) له لارې د تألیف، تحلیل، پرتله کولو او تأییدولو لپاره یو ټکنالوژیکي مرکز ته لیږل کیږي. وروسته بیا معلومات یا ډېټا بېرته ټولنو ته لیږدول کیږي او/یا د ناورین په وړاندې د غبرګون په کړنو یا فعالیتونو کې مدغم کیږي. | |
| لنډمهاله پایلې (Outputs) | • د LITK مستند کول او همغږي<br>• د ناوړه هوا حالاتو اړوند پیښو ډېر دقیق وړاندوینې<br>• عملي ډېټا به د DRR په نورو میتودونو کې مدغم شي | |
| اوږدمهاله پایلې (Outcomes) | • د مدغم شوي LITK سره د DRR پیاوړې چوکاټ<br>• د آفتونو له امله د معیشت او شتمنیو د ضایع کېدو کموالی | |
| کوم اصلي لامل په ګوته کوي | (2A) نالغېزمن DRR – تخنیکي ظرفیت (عصري او دودیز) | |
| د راتلونکي مرحلې څېړنې لپاره د پوښتنې نمونه | • کوم ډول معلومات کېدای شي د لویانو څخه راټول شي؟<br>• هغه کوم شرایط دي چې له مخې یې مشران کولی شي خپل وړاندوینې او پوهه شریک کړي؟<br>• موږ څنګه کولی شو د لویانو یا مشرانو معلومات او تخنیکي تحلیلونو سره پرتله کړو ترڅو په بدلیدونکي چاپېریال کې د اعتبار یا باور په اړه داډ ترلاسه کړو؟ | |

## 2 د حل لارې په اړه نظر: د ریموټ سینسنګ (د لرې واټن حسګر سیسټم) او بدیلو واښو (د څارویو خوراکي) له لارې د څړځایونو مدیریت

پورې اړوند: SOM, AFG

| | |
|---|---|
| څه یا کومه ستونزه حل کوي | د څړځایونو اوسني میتودونه او د ځمکې پوښلو لپاره د بوټو او ونو کښېنول د څړځایونو ځمکې خرابوي او د څارویو لپاره کافي واښه یا خوراکه نه برابروي. دا ستونزه د جګړو او سختو اقلیمي پېښو لکه وچکالۍ او د ځمکې ښوییدنې له امله لا پسې زیاتیږي. |
| څنګه کار کوي | ریموټ سینسنګ (د لرې واټن حسګر سیسټم) د لاسرسي وړ څړځایونو ارزولو لپاره کارول کیږي، پرته له هغو سیمو څخه چې د جګړو له امله تخریب شوي یا ناامنه دي. همدارنګه وراندوینه د نباتاتو (څړځایونو) د بدلونونو یا محرکونو د څارنې لپاره کارول کیږي. په هغه حالتونو کې چې څړځایونه د څارویو اړتیاوې نه شي پوره کولی، ټولنو ته خبرداری ورکول کیږي چې د بدیلو واښو یا خوراکې څخه کار واخلي، لکه د هایدروپونیک واښه (hydroponic fodder) او مالداره او څاروي لرونکي خلکو سره د یادو واښو یا خوراکې په تولید کې مرسته کیږي. |
| لنډمهاله پایلې (Outputs) | د څارویو او خلکو خوندي تحرک • ډیر موجود او دوامداره څړځایونه • په څارویو باندې لږ فشار • د واښو اضافي سرچینې |
| اوږدمهاله پایلې (Outcomes) | څړځایونو ته پراخه لاسرسی • څړځایونو ته د لاسرسي زیاتوالی • د کورنۍ عاید زیاتوالی • د آفتونو له امله د څارویو د ضایع کېدو کمښت • د آفتونو له امله د معیشت د ضایع کېدو کمښت د مهاجرت او آفتونو له امله د ځمکې د تخریب کمښت |
| کوم اصلي لامل په ګوته کوي | (2A) ناغېزمن DRR – تخنیکي ظرفیت (عصري او دودیز)<br>(2B) ناغېزمن DRR – همغږي (د ټولنې په کچه)<br>(2C) ناغېزمن DRR – د چاپېریال فشار |
| د راتلونکي مرحلې څېړنې لپاره د پوښتنې نمونه | • دا حل لاره څه ډول د ټولنې لخوا د سرچینو په مدیریت اغېزه کولی شي او موږ څنګه کولی شو د سرچینو په اړه د شخړې اټکل او مخنیوی وکړو ؟<br>• ټولنې د باخبره پرېکړه کولو لپاره کومو معلوماتو ته اړتیا لري؟<br>• کومې ونې او بوټي د واښو یا د څارویو د خوراکې بدیل په توګه ترټولو  غوره دي؟ |

## 3 د حل لارې په اړه نظر: په کلتور کې د DRR مدغم کول

پورې اړوند: SOM, AFG

| | |
|---|---|
| څه یا کومه ستونزه حل کوي | د نسلونو ترمنځ د پوهې ناسم لېږد او د مهاجرت له امله د LITK  DRR له لاسه ورکول، کوم چې د ناروین پرمهال د ناکافي چمتووالي او رسېدنې لامل کیږي |
| څنګه کار کوي | د LITK ټولنیز ساتونکي، کلتوري مشران او د ځوانانو ډلې په ګډه کار کوي ترڅو د ځوانانو د ښکېلتیا لپاره د کلتوري کړنو، جشنونو، هنري آثارو او عصري کلتوري عناصرو سره بومي پوهه مدغم کړي. |
| لنډمهاله پایلې (Outputs) | د LITK DRR محرکونو او غوره عملونو ښوولو او ښودلو لپاره سندرې، ټوکر او تمرینونه کارول |
| اوږدمهاله پایلې (Outcomes) | په DRR کې د LITK د ساتنې زیاتوالی • په DRR کې د LITK د تطبیق زیاتوالی • د آفتونو له امله د معیشت د ضایع کېدو کمښت |
| کوم اصلي لامل په ګوته کوي | (2A) ناغېزمن DRR – تخنیکي ظرفیت (عصري او دودیز)<br>(2B) ناغېزمن DRR – همغږي (د ټولنې په کچه) |
| د راتلونکي مرحلې څېړنې لپاره د پوښتنې نمونه | • کوم کلتوري اړخونو ته باید لومړیتوب ورکړل شي چې په ټولنه کې د هرچا پورې اړه ولري؟<br>• د نسلونو ترمنځ کوم کلتوري توپیرونه باید په پام کې ونیول شي؟<br>• ټکنالوژي څنګه کولی شي په کلتور کې د DRR ادغام کې مرسته وکړي؟ |

## 4 د حل لارې په اړه نظر: وچکالۍ سره د مقابلې لپاره ځیرک محرکونه

پورې اړوند: AFG SOM

| | |
|---|---|
| څه یا کومه ستونزه حل کوي | د وچکالۍ د شرایطو د ناسمې وړاندوینې او بې وخته او نااغېزمنه رسېدنې یا غبرګون له امله د حاصلاتو او سرچینو ضایع کېدل |
| څنګه کار کوي | کله چې وچکالۍ د ریموټ سینسنګ (د لرې واټن حسګر سیستم) او LITK تحلیلونو له لارې اټکل کېږي، ټولنې هڅول کېږي چې د خطر ډول، د غبرګون وخت او د لګښت مؤثریت پراساس ځانګړي اقدامات ترسره کړي. یوازې هغه وخت چې یو الګوریتم د لګښت له اړخه دا یو ډېر مؤثر یا اغېزمن عمل وګڼي، ټولنې د فصلونو د ساتنې لپاره په لوړبیه تدابیرو پانګه اچونه کوي، لکه د طبیعي بایو سټیمولنټ سپرېګانو (biostimulant sprays)، د اوبو ذخیرې، یا د تخمونو اصلاح (priming). د لګښت اغېزمنتوب د ټولنې د غوره توبونو، د ټولنیز هویت په پام کې نیولو، د بازار نرخونو او د نورو شریکانو لخوا پېژندل شویو فکتورونو له لارې ارزول کېږي. |
| لنډمهاله پایلې (Outputs) | د وچکالۍ د خطر کمولو ستراتیژیو څخه ډېره اغېزمنه ګټه اخیستنه ترڅو د حاصلاتو ضایع کېدل کم کړي. • د ایکولوژیکي سرچینو ډېره اغېزمنه او دوامداره کارونه. • د لګښت له اړخه د کورنیو سرچینو ډېره اغېزمنه کارونه. • د تنظیم وړ ظرفیت زیاتوالی. • د طبیعي DRR زېربنا جوړول. • د محلي ټولنو لپاره د اضافي عایداتي لارو معرفي کول. • د اوبو د محلي سرچینو لپاره طبیعي فلټرېشن • د ګډون کوونکو کورنیو لپاره دوامداره او د څو نسلونو لپاره عایداتي لار یا جریان رامنځته کول |
| اوږدمهاله پایلې (Outcomes) | د خاورې تخریب کمول. • د ځمکې پر سطحې د اوبو جریان کمول. • د ځمکنۍ اوبو د سطح زیاتوالی. • د ځمکې ښویېدنې او سېلابونو پېښو کې کموالی. د کورنۍ عاید زیاتوالی • د آفتونو له امله د معیشت د ضایع کېدو کمښت |
| کوم اصلي لامل په ګوته کوي | (1B) د DRR نښتون – زېربنا • (1C) د DRR نښتون – مالي سرچینې (د دولت په کچه)<br>(2A) نااغېزمن DRR – تخنیکي ظرفیت (عصري او دودیز) • (2D) نااغېزمن DRR – مالي سرچینې (د کورنۍ په کچه) |
| د راتلونکي مرحلې څېړنې لپاره د پوښتنې نمونه | • ټولنه د بریا لپاره څه ته اړتیا لري؟<br>• څومره وړاندیز شوي څنګلونه په هغو سیمو کې دي چېرې چې سېلابونه او د ځمکې ښویېدنې خلکو او د دوی معیشت ته خطر پېښ کوي؟<br>• د پستې د بنه خرڅلو لپاره د بازارموندنې کومې اړیکې یا لارې شتون لري یا اړین دي؟ |

## 5 د حل لارې په اړه نظر: د کورنیو لپاره څنګلونه

پورې اړوند: AFG

| | |
|---|---|
| څه یا کومه ستونزه حل کوي | مکررې ځمکې ښویېدنې او سېلابونه، د اوبو ناکافي مدیریت او/یا په کې د همغږۍ نشتون |
| څنګه کار کوي | په افغانستان کې د پستې د څنګلونو په څېر، د څنګلونو ستراتیژیک کښت او مدیریت د اوبو د مدیریت، د زیاتو اوبو د جذبولو او د ځمکې د ثبات لپاره خورا مهم دي. ټکنالوژي د کښت کولو لپاره غوره ځایونه او د اوبو د مدیریت لپاره اضافي اقدامات پېژني. په دې پروګرام کې کورنۍ نیالګي ترلاسه کوي او د څنګلونه رامنځته کولو لپاره هغه کښېنوي. پستې د هغو میتودونو له لارې ترلاسه کېږي چې پر اقلیم کومه ناوړه اغېزه نه کوي او په لویدیځو بازارونو کې د څنګلونو لګښتونو پوره کولو لپاره په ډېره ښه بیه پلورل کېږي. |
| لنډمهاله پایلې (Outputs) | د طبیعي DRR زېربنا جوړول. • د محلي ټولنو لپاره د اضافي عایداتي لارو معرفي کول. • د اوبو د محلي سرچینو لپاره طبیعي فلټرېشن<br>د ګډون کوونکو کورنیو لپاره دوامداره او د څو نسلونو لپاره عایداتي لار یا جریان رامنځته کول |
| اوږدمهاله پایلې (Outcomes) | د خاورې تخریب کمول. • د ځمکې پر سطحې د اوبو جریان کمول. • د ځمکنۍ اوبو د سطح زیاتوالی. • د ځمکې ښویېدنې او سېلابونو پېښو کې کموالی. د کورنۍ عاید زیاتوالی • د آفتونو له امله د معیشت د ضایع کېدو کمښت |
| کوم اصلي لامل په ګوته کوي | (1B) د DRR نښتون – زېربنا • (1C) د DRR نښتون – مالي سرچینې (د دولت په کچه)<br>(2A) نااغېزمن DRR – تخنیکي ظرفیت (عصري او دودیز) • (2D) نااغېزمن DRR – مالي سرچینې (د کورنۍ په کچه) |
| د راتلونکي مرحلې څېړنې لپاره د پوښتنې نمونه | • ټولنه د بریا لپاره څه ته اړتیا لري؟<br>• څومره وړاندیز شوي څنګلونه په هغو سیمو کې دي چېرې چې سېلابونه او د ځمکې ښویېدنې خلکو او د دوی معیشت ته خطر پېښ کوي؟<br>• د پستې د بنه خرڅلو لپاره د بازارموندنې کومې اړیکې یا لارې شتون لري یا اړین دي؟ |

| | |
|---|---|
| څه يا کومه ستونزه حل کوي | د اوبو کمښت او د اوږدې وچکالۍ په جريان کې د اوبو ناسم ذخيره کول او وېشل، د کروندګرو او مالدارانو لخوا د ځمکې لاندې اوبو زېرمو ډېر مصرف او د اوبو غيرمؤثر استعمال او مديريت. |
| څنګه کار کوي | د اوبو د دوديزو سربندونو او د اوبو د توزيع کانالونو بيارغونه د اوبو د توليد او د انسان/څارويو د کارونې دقيقې محاسبې پر بنسټ لومړيتوب ورکول کيږي. د اوبو محلي کميټې د ځمکې نقشې، د خاورې سينسرونه، د اوبو ګېجونه (د اوبو د فشار د محاسبې آله) او ريموټ سينسنګ (د لرې واټن حسګر سيسټم) کاروي ترڅو د زېربنايي بيارغونې او ساختماني لومړيتوبونو او د موخې وړ اوبو ذخيره کولو حجم په اړه پرېکړه وکړي. مصنوعي ځيرکتيا په اغېزمنه توګه د اوبو د ذخيره کولو ټکنالوژيو لپاره سپارښتنې وړاندې کوي، کوم چې د DRR فعاليتونه يا ادارو لخوا مالي ملاتړ کيږي. |
| لنډمهاله پايلې (Outputs) | د کروندګرو او مالداره (څاروي لرونکو) کورنيو او ټولنو لپاره د ډېرو اغېزمنو او مطلوبو اوبو زېرمو پراختيا |
| اوږدمهاله پايلې (Outcomes) | د اوبو شتون او اوبو ته د لاسرسي زياتوالی<br>• د آفتونو له امله د معيشت او شتمنيو د ضايع کېدو کمښت<br>• د اوبو کارولو د مؤثريت زياتوالی<br>د اوبو د سرچينو پر سر د شخړو کموالی<br>• د اقليمي ناورينونو لکه د وچکالۍ خطرونو يا زيانونو کمولو لپاره د کروندګره او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو ظرفيت لوړوالی |
| کوم اصلي لامل په ګوته کوي | (1B) د DRR نشتون – زېربنا<br>(2A) نااغېزمن DRR – تخنيکي ظرفيت (عصري او دوديز)<br>(2C) نااغېزمن DRR – د چاپېريال فشار |
| د راتلونکي مرحلې څېړنې لپاره د پوښتنې نمونه | • کومه دوديزه زېربنا اوس هم د ټولنو لپاره د کارونې وړ ده؟<br>• دوی څنګه په دوامداره توګه د انساني او کرنيزو (څارويو او نباتاتو) اړتياوو پوره کولو لپاره وده کولی شي؟<br>• د دې جوړښتونو د بيارغولو او اداره کولو لپاره کوم کارونه، سرچينې او ټولنيزې هوکړې اړين دي؟ |

په راتلونکي پړاو کې، موږ به په افغانستان او سوماليا کې په کروندګره او مالداره (څاروي لرونکو) ټولنو کې د ګټه اخيستونکو او سيمه ييزو شريکانو سره د آزموينې لپاره د حل نظرياتو ساده او د پام وړ پروټوټايپونو (لومړنيو بڼو) ته وده ورکړو چې موخه يې د موجوده نظرونو اصلاح کول او د نوي نظرونو رامنځته کول دي. زموږ د پوښتنو کليدي برخو کې د ستونزې په اړه د ګټه اخيستونکو تجربې، اوس مهال څنګه دا ستونزې حل کوي (يا نه حل کوي)، د دوی د DRR غوره توبونه او اړتياوې، او دا چې د شخړو محرکونه زموږ د نظرونو سره څنګه اړيکه لري، شامل دي. برسېره پردې، موږ به د هغو شريکانو سره ښکېل شو چې په ورته شرايطو کې ورته تخنيکي حل لارې پلي کړي دي ترڅو د دوی تجربو څخه ګټه پورته کړو او خپل کار په سمه توګه ترسره کړو. په پای کې، موږ به د هرې مفکورې يا نظر د اندازې او اغېزې احتمال اندازه کولو او اټکل کولو لپاره د لارو چارو لپاره فرضيې رامنځته کړو. بيا به موږ دا معلومات د ګټه اخيستونکو او شريکانو او موجوده شواهدو سره يوځای وکاروو، ترڅو د پرمختګ لپاره خورا ګټورې حل لارې وپېژنو. دا مهمه ده چې يادونه وکړو چې په دې مرحله کې دا نظرونه خورا ابتدايي دي او په بشپړه توګه وده ورکړل شوي نه دي او احتمال لري چې پراخه اندازه او اغېزه ونښايي. زموږ موخه د ډېرو نظرونو رامنځته کول دي چې موږ بيا کولی شو په بشپړ ډول هغوی تحليل کړو ترڅو غوره او ډېر باکيفيته نظرونه ومومو.

د دې پروسې له لارې، موږ مهم او قوي شواهد، تخنيکي او د شرايطو پورې اړونده تخصص، يو ستراتيژيک او راتلونکی محوره ذهنيت او پر کاروونکي متمرکز ډيزاين يوځای کوو ترڅو د ټولنې په مشرۍ حل لارې پيدا او ويې پېژنو چې د ناورين په مرکز کې د ټولنو غوره توبونو او اړتياوو ته لومړيتوب ورکوي.

## د نړيوال اقدام لپاره اړتيا

په داسې حال کې چې افغانستان او سوماليا د DRR په وړاندې د پام وړ سيمه ييزو ننګونو سره مخ دي، په تر ټولو زيانمنونکو ځايونو کې د ناورين سره د مقابلې لپاره اصلي ستونزه د نړيوال تمويل نشتون دی. د دې ننګونو د له منځه وړلو او د حل لارو په اړه د نظرونو د لا پراختيا او پلي کولو لپاره، دا مهمه ده چې د نړيوال تمويل په وړاندې اصلي خنډونه لرې شي. اوس مهال، د اقليم په وړاندې زيانمنونکي او د جګړو له امله اغېزمن شوي هېوادونه د ناورين سره د مقابلې لپاره د ځينو يو بل پورې تړلو ستونزو او خنډونو له امله سم مالي تمويل نه ترلاسه کوي. په اوسط ډول، دا هېوادونه، د هغو هېوادونو په پرتله چې د جګړو يا شخړو له امله اغېزمن شوي نه دي، د ناورين سره د مقابلې مالي تمويل دريو برخو څخه يوازې يوه برخه ترلاسه کوي (Crisis Group، ۲۰۲۴). په افغانستان، سوماليا او د ناورين په مرکز کې نورو هېوادونو کې د DRR

هڅو د پیاوړتیا لپاره او د نړیوال ملاتړ هڅولو لپاره د دې خنډونو په اړه پوهېدل خورا مهم دي.

په نړیواله کچه، د ناورین په مرکز کې د ناورین د خطر د زیاتېدو عمده ننګونې **د مالي تمویل د نشتوالي (3)** څخه منشأ اخلي، کوم چې **د نړیوالو ادارو لخوا د خطر پر مهال د ملاتړ کولو په اړه د بې میلې او تردید (3A)** او **د نورو مختلفو لومړیتوبونو لپاره د مالي تمویل د کارولو (3B)** له امله رامنځته کېږي. ادا د DRR هڅو لپاره د محدودو مالي سرچینو د تخصیص لامل کېږي، په ځانګړې توګه په داسې شرایطو کې چې د لنډ مهاله اغېزو اندازه کول ستونزمن دي او د پانګې بېرته لاسته راوړل یا ګټې یې ناڅرګندې دي. پردې علاوه، د افغانستان، سومالیا او نورو هغو هیوادونو لپاره چې د جګړو یا شخړو له امله اغېزمن شوي او غواړي د ناورین سره د مقابلې لپاره مالي تمویل لاسته راوړي، د نړیوالو ادارو لخوا مالي تمویل ته لومړیتوب ورکول یوه ننګونه ده. له یوې خوا، DRR عموما د "پرمختیایي" لومړیتوب په توګه طبقه بندي کېږي، په داسې حال کې چې په هغو هیوادونو کې چې د جګړو یا شخړو له امله اغېزمن شوي پروژې اکثرا د "بشردوستانه/بشرپاله" په توګه طبقه بندي کېږي او له همدې امله هغه هیوادونه د ځینو مالي مرستو د ترلاسه کولو وړ نه دي. له بلې خوا، بشري تمویل د محدودو سرچینو، مختلفو بېړنیو لومړیتوبونو او د اوږدمهاله پرمختیایي ستراتیژیو سره د نه ادغام له امله د DRR اړتیاوو ته رسېدو کې ناکافي دی.

په پایله کې، ادا هیوادونه د مالي تمویل د دواړو جریانونو څخه بې برخې دي، چې د ناورین سره د مقابلې کولو لپاره د جدي تشو او د ناورینونو په وړاندې د زیانمنتیا لامل کېږي (UNEP، ۲۰۲۳).

حتی کله چې تمویل شتون ولري، ادا اکثرا **د متمرکزو جوړښتونو (4A)** او **د مالي تمویل محدودې کاروني (4B)** لخوا **ناغېزمن کېږي (4)**، کوم چې د اوږدمهاله انعطاف یا مقاومت رامنځته کولو اقداماتو په پرتله لنډ مهاله بشري غبرګونونو ته لومړیتوب ورکوي چې له امله یې زیانمنتیاوې دوامداره کېږي او سیستمیک خطرونه نه حل کېږي (آی آر سي، ۲۰۲۲؛ Quevedo et al.، ۲۰۲۳). پردې علاوه، ډېری اقلیمي مالي تمویلونه باید د متمرکزو او د دولت لخوا تنظیم شوي جوړښتونو له لارې د لاسرسي وړ وي، کوم چې په ځانګړې توګه په هغو هیوادونو کې چې د جګړو یا شخړو له امله اغېزمن شوي ننګونکې دي، لکه په افغانستان او سومالیا کې چېرې چې د حکومت سره همغږي د شخړو او جیوپولیټیک مسلو له امله پېچلې ده او د نفوس ډېره برخه د حکومت له کنټرول څخه بهر سیمو کې ژوند کوي.

**انځور ۵**




**انځور ۵ د انځور ۲ په اړه (چې په ۴ پاڼه کې وړاندې شوی) نور معلومات وړاندې کوي**

## د دې دورې/څرخې ماتولو او د نړیوال اقلیمي عدالت ترلاسه کولولپاره، د نړۍ مشران باید د ناورین په مرکز کې ټولنې ځواکمنې کړي.



۸۰ کلنه هاوو، یو کوچۍ کروندګره او مالداره (څاروي لرونکې)، د سومالیا د دریو پرله پسې ناکامو باراني موسمونو اغېزې په ښه توګه پېژني. دا د هغې د عاید یوازینۍ سرچینې له لاسه ورکولو په معنی وه: د هغې څاروي. هاوو وویل: «وچکالي زما لپاره نوې نه ده، مګر زما د تجربې له مخې، دا تر ټولو بده وچکالي ده چې ما لیدله ده.»

له همدې امله د اقلیمي ناورینونو لپاره د مالي تمویل رامنځته کولو لپاره پراخه ملګرتیا او مشارکت خورا مهم دي ترڅو هغو ټولنو ته سرچینې د لاسرسی وړ شي چې ورته ډېره اړتیا لري.

په پای کې، د اقلیم په وړاندې زیانمنونکي او د جګړو له امله اغېزمن شوي هیوادونو لکه افغانستان او سومالیا لپاره – چې په غیر متناسب ډول د اقلیمي ناورین اغېزې سره مخ دي سره له دې چې ترټولو لږ د یاد ناورین لامل کیږي – په نړیواله کچه د DRR لپاره د مؤثره مالي تمویل نشتوالی، په ملي او ټولنیزه کچه د اغېزمن DRR پروګرام نشتوالی لامل کیږي. د مالي تمویل دا تشه د زیانمنتیا دورې/څرخې ته دوام ورکوي چې د مقاومت رامنځته کولو لپاره د ټولنې وړتیا له ستونزو سره مخ کوي او د اقلیمي بدلون اغېزې او د شخړې محرکونه زیاتوي. د دې دورې/څرخې ماتولو او د نړیوال اقلیمي عدالت ترلاسه کولو لپاره، د نړۍ مشران باید د ناورین په مرکز کې ټولنې ځواکمنې کړي. د دې کار ترسره کول لاندې موارد ته اړتیا لري:

- په سیمه ایزه کچه د اقلیم او د شخړو د ګډو خطرونو مشخص کول ترڅو د غبرګون یا اقدام لپاره هغه ځای په نښه شي چې ترټولو ډېر ورته اړتیا لري
- لکه څنګه چې د قضیې په دې مطالعې کې وړاندیز شوي، د محل او ټولنې لخوا د رهبرۍ شویو میتودونو له لارې د ناورین سره د مقابلې لپاره پر یو داسې نوښتګره او د شخړې په وړاندې حساسه مقاومت رامنځته کولو باندې پانګه اچونه چې بشپړ غیر دولتي مشارکتونو ته اړتیا لري
- د اقلیم لپاره مالي تمویل ته لاسرسی عادلانه او آسانه کول ترڅو د اقدام یا غبرګون لپاره د کافي سرچینو شتون یقیني کړي

دې ستراتیژیو ته لومړیتوب ورکولو سره، نړیوال تمویل کوونکي کولی شي ډاډ ترلاسه کړي چې د ناورین په مرکز کې ټولنې هغه سرچینې لري چې دوی د ناورین پر مهال د اغېزمنې مقابلې او مقاومت رامنځته کولو لپاره ورته اړتیا لري. د لنډمهاله مرستې څخه هاخوا، د دوامداره حل لارو په لوري حرکت کول د سیمه ییزو ټولنو سره د ناورینونو په وړاندې مقاومت او بیارغېدو کې د مرستې لپاره اړین دي. یوازې د یوې ګډې هڅې له لارې موږ کولی شو په افغانستان، سومالیا او د ناورین په مرکز کې نورو هیوادونو کې د DRR هڅو ته وده ورکړو چې په پای کې کولی شي د یادو هیوادونو لپاره یو ډېر منعطف، مقاوم او مساوي راتلونکی رامنځته کړي.

## ماخذونه:


1. Abdi Sheikh, M. and L. Weingartner. 13 July 2022. "Community-led early warning and anticipatory action in Somalia." Supporting Pastoralism and Agriculture in Recurrent and Protracted Crises (SPARC) Knowledge. https://www.sparc-knowledge.org/news-blog/blog/community-led-early-warning-and-anticipatory-action-somalia

2. Adelphi. 24 May 2022. "Climate Risk Profile Somalia." Weathering Risk. https://reliefweb.int/report/somalia/weathering-risk-climate-risk-profile-somalia

3. Afghanistankomiteen (Norwegian Afghanistan Committee). 19 June 2024. Baseline Assessment on Livelihoods in Rural Afghanistan. https://afghanistankomiteen.no/en/baseline-assessment-on-livelihoods-in-rural-afghanistan-after-the-talibans-return-to-power/

4. Afghanistan Resilience Consortium (ARC). 2016. Building Afghanistan's resilience: Natural hazards, climate change, and humanitarian needs. Presented at the 2016 Brussels Conference on Afghanistan. https://www.acbar.org/upload/1516706367494.pdf

5. African Development Bank (AfDB). 05 Jun 2024. Somalia: Climate Disaster Risk Financing Project. https://projectsportal.afdb.org/dataportal/VProject/show/P-Z1-K00-165?cur=ua

6. Al Jazeera. 24 Dec 2022. "Taliban orders NGOs to send women workers home." https://www.aljazeera.com/news/2022/12/24/taliban-bans-women-from-working-for-domestic-foreign-ngos

7. Ali, K.O. 3 June 2024. Key informant interview. International Rescue Committee (IRC).

8. Amarnath, G., Ghosh, S., Alahacoon, N. 2023. Research Report 188, Afghanistan Drought Early Warning Decision Support (AF-DEWS). International Water Management Institute (IWMI). ). doi.org/10.5337/2023.223

9. Arush, N. 28 May 2024. Key informant interview. International Rescue Committee (IRC).

10. Barez, B. 4 June 2024. Key informant interview. International Rescue Committee (IRC).

11. Cities Alliance. 5 Aug 2021. "Building and Strengthening Community Through Inclusive Community-Based Disaster Risk Management." https://www.citiesalliance.org/sites/default/files/2021-08/Final_report_CfP2020_AWCC%20Somalia.pdf

12. Climate Adaptation Platform (CAP). 23 Feb 2024. Early Warning Tool helps Afghanistan cope with drought. https://climateadaptationplatform.com/early-warning-tool-helps-afghanistan-cope-drought/

13. Crisis Group. 11 June 2024. "Giving Countries in Conflict Their Fair Share of Climate Finance." https://www.crisisgroup.org/content/fair-share-of-climate-finance

14. D'Souza, S.M. 19 February 2024. "Afghanistan's Truncated Capacity to Respond to Natural Disasters: Isn't It Time for the International Community to Step In?" *Georgetown Journal of International Affairs.* Georgetown University Walsh School of Foreign Service. https://gjia.georgetown.edu/2024/02/19/afghanistans-truncated-capacity-to-respond-to-natural-disasters-isnt-it-time-for-the-international-community-to-step-in

15. de Zoysa, K., Tye, S. 18 April 2023. "Profiles of Adaptation: Somalia." World Resources Institute (WRI). https://www.wri.org/update/profiles-adaptation-somalia

16. Essar, M.Y., Wahdati, S., O'Sullivan, B., Nemat, A., Blanchet, K. (8 Jan 2024). Cycles of disasters in Afghanistan: The urgent call for global solidarity. *PLOS Global Public Health*. doi: https://doi.org/10.1371/journal.pgph.0002751

17. Global Facility for Disaster Reduction and Recovery (GFDRR). Somalie. https://www.gfdrr.org/fr/somalie

18. Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO). "El Niño, How SWALIM Supported Early Warning and Preparedness." Somalia Water and Land Information Management (SWALIM). https://www.faoswalim.org/article/el-niño-how-swalim-supported-early-warning-and-preparedness

19. Food and Agricultural Organization of the United Nations (FAO). 11 Nov 2022. "How Somalia Used Biopesticides to Win Against Desert Locusts." https://www.fao.org/newsroom/story/How-Somalia-used-biopesticides-to-win-against-desert-locusts/en

20. Food and Agriculture Organization of the United Nations (FAO) and UN Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). 17 May 2024. Asia and the Pacific: El Niño in Review (2023-2024) as of 10 May 2024. https://reliefweb.int/report/afghanistan/asia-and-pacific-el-nino-review-2023-2024-10-may-2024

21. Giffin, K. 15 August 2022. "One year on: the Taliban takeover and Afghanistan's changing displacement crisis." Internal Displacement Monitoring Centre (IDMC). https://www.internal-displacement.org/expert-analysis/one-year-on-the-taliban-takeover-and-afghanistans-changing-displacement-crisis/.

22. Integrated Food Security Phase Classification (IPC). 27 May 2024a. Afghanistan: Acute Food Insecurity Situation for March-April 2024 and Projection for May-October 2024. IPC Portal. https://www.ipcinfo.org/ipc-country-analysis/details-map/en/c/1157027/?iso3=AFG

23. Integrated Food Security Phase Classification (IPC). 15 February 2024b. Somalia: Acute Food Insecurity Situation for January-March 2024 and Projection for April-June 2024. IPC Portal. https://www.ipcinfo.org/ipc-country-analysis/details-map/en/c/1156834/?iso3=SOM

24. Internal Displacement Monitoring Centre (IDMC). 2024. Country Profile: Somalia 2023 Overview. https://www.internal-displacement.org/countries/somalia/

25. International Rescue Committee (IRC). 01 February 2024. "IRC raises alarm as cholera outbreak surges in Somalia following El Niño rains." *Press Release.* https://www.rescue.org/press-release/irc-raises-alarm-cholera-outbreak-surges-somalia-following-el-nino-rains

26. International Rescue Committee (IRC). 17 May 2024a. "Crisis in Afghanistan: What you need to know and how to help." 2024 Emergency Watchlist. https://www.rescue.org/article/crisis-afghanistan-what-you-need-know-and-how-help

27. International Rescue Committee (IRC). 11 May 2024b. "At least 250 lives lost in major flooding in Afghanistan; thousands of families cut off from essential services." Press Release. Kabul, Afghanistan. https://www.rescue.org/press-release/irc-least-250-lives-lost-major-flooding-afghanistan-thousands-families-cut-essential

28. International Trade Administration (ITA). 22 Jan 2024. Economic Infrastructure, Roads, Airports, and Seaports. Somalia — Country Commercial Guide. https://www.trade.gov/country-commercial-guides/somalia-economic-infrastructure-roads-airports-and-seaports

29. Kahiye, M. 17 June 2021. "Environmentalists: Demand for Somali Charcoal Fueling Desertification, Drought." Voice of America. https://www.voanews.com/a/africa_environmentalists-demand-somali-charcoal-fueling-desertification-drought/6207144.html

30. Kumar, R. 18 Jun 2024. "How the Taliban adds to Afghanistan's woes when it comes to climate-fueled disasters." National Public Radio (NPR). https://www.npr.org/sections/goats-and-soda/2024/06/04/g-s1-2714/afghanistan-flooding-crisis-taliban-sanctions

31. Liakos, C., E. Popalzai, S. Akbarzai, M. Tawfeeq, I. Kottasová. 26 December 2022. "Major foreign aid groups suspend work in Afghanistan after Taliban bars female employees." CNN. cnn.com/2022/12/25/asia/afghanistan-ngos-suspend-programs-taliban-work-ban-intl/index.html

32. Mohamed, T. and I. Scoones. 12 May 2023. "Local early warning systems: predicting the future when things are so uncertain." PASTRES. https://pastres.org/2023/05/12/local-early-warning-systems-predicting-the-future-when-things-are-so-uncertain/

33. Nasib, M.H.., 22 May 2024 Key informant interview. International Rescue Committee (IRC).

34. Njenga, M. 3 June 2024. Ley informant interview. International Rescue Committee (IRC).

35. Notre Dame Global Adaptation Initiative (ND-GAIN). Country Rankings. ND-Gain Country Index. University of Notre Dame. Accessed 20 June 2024. https://gain.nd.edu/our-work/country-index/rankings/

36. Quevedo, A., Kazmi, B.A., Loyaan, F., Gulati, M., et al. Sept 2023. "Financing Climate Adaptation in Fragile States: A case of Somalia." Policy Brief. Supporting Pastoralism and Agriculture in Recurrent and Protracted Crises (SPARC). https://www.sparc-knowledge.org/sites/default/files/documents/resources/financing-climate-adaptation-in-fragile-states-a-case-of-somalia-policy-brief.pdf

37. Ranghieri, F., Fallesen, D, Longman. B, et al. 2017. Disaster Risk Profile: Afghanistan. World Bank Institute, Global Facility for Disaster Risk Reduction and Recovery (GFDRR). https://www.preventionweb.net/publication/disaster-risk-profile-afghanistan

38. Sagliocco, L. 7 June 2024. Key informant interview. International Rescue Committee (IRC).

39. Sajid, A.. 23 May 2024. Key informant interview. International Rescue Committee (IRC).

40. Seerat, R. 11 May 2023. "Analyzing the Taliban budget for 2023-24: Prioritizing military spending over citizen welfare." *Zan Times*. https://zantimes.com/2023/05/11/analyzing-the-taliban-budget-for-2023-24-prioritizing-military-spending-over-citizen-welfare/

41. Taruri, M., L. Bennison, S. Kirubi, and A. Galli. 2020. *Multi-stakeholder approach to urban displacement in Somalia.* Forced Migration Review. https://www.fmreview.org/taruri-bennison-kirubi-galli/

42. TRT Afrika. (2024, March 4). *Drought and floods: Is livestock insurance the way out for herders in Somalia?* https://trtafrika.com/africa/drought-and-floods-is-livestock-insurance-the-way-out-for-herders-in-somalia-17224049

43. United Nations Development Programme (UNDP). 11 June 2024. Deyr Floods Somalia 2023: Rapist Post-Disaster Needs Assessment. https://www.aundp.org/somalia/publications/deyr-floods-somalia-2023-rapid-post-disaster-needs-assessment

44. United Nations Environment Programme (UNEP). 02 November 2023. "As climate impacts accelerate, finance gap for adaptation efforts at least 50% bigger than thought." *Press Release*. https://www.unep.org/news-and-stories/press-release/climate-impacts-accelerate-finance-gap-adaptation-efforts-least-50.

45. UN Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). 23 Dec 2023. Afghanistan Humanitarian Needs and Response Plan 2024. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-humanitarian-needs-and-response-plan-2024-december-2023-endarips

46. UN Office for the Coordination of Humanitarian Affairs (OCHA). 16 May 2024. Afghanistan: Slow-onset early action plan for drought - drought preparedness, May 2024. https://reliefweb.int/report/afghanistan/afghanistan-slow-onset-early-action-plan-drought-drought-preparedness-may-2024

47. United Nations Office for Disaster Risk Reduction (UNDRR) (2020). Disaster Risk Reduction in Afghanistan: Status Report 2020. Bangkok, Thailand, United Nations Office for Disaster Risk Reduction (UNDRR), Regional Office for Asia and the Pacific.

48. United States Agency for International Development (USAID). 15 Mar 2024. “Climate risks to resilience and food security in Bureau for Humanitarian Assistance Geographies: Somalia.” https://reliefweb.int/report/somalia/climate-risks-resilience-and-food-security-bureau-humanitarian-assistance-geographies-somalia

49. United States Agency for International Development (USAID). 2020. “Somalia Resilience Partnership.” The HoRN Resilience Learning Hub. https://hornresiliencelearning.org/country/somalia/

50. Verhoeven, H. 28 May 2024. *Drought, conflict, and the circulation of climate knowledge in Somalia.* Harvard Kennedy School. https://www.hks.harvard.edu/centers/cid/voices/drought-conflict-and-circulation-climate-knowledge-somalia

51. Wong, M. 17 Aug 2023. *Exploring investment opportunities for the livestock sector in Somalia.* International Livestock Research Institute (ILRI). CGIAR. https://www.ilri.org/news/exploring-investment-opportunities-livestock-sector-somalia#:~:text=Somalia%2520has%2520a%2520large%2520livestock,45%2525%2520to%2520the%2520national%2520GDP

52. World Bank. 2018. *Toward Drought Recovery and Resilience: The Somalia Drought Impact & Needs Assessment and Recovery & Resilience Framework.* https://documents1.worldbank.org/curated/en/339531516991002333/pdf/122990-Revised-PUBLIC-Somalia-Executive-Brief-180111-Digital.pdf

53. World Meteorological Organization (WMO). n.d. Afghanistan Early Warning System Project. https://community.wmo.int/en/projects/afghanistan-early-warning-system-project.

**د پوښ انځور:** ۳۰ کلن عبدالحق د افغانستان په لرې پراته او وچکالۍ ځپلي بادغيس ولايت کې خپل پسونه څروي. نږدې سيند په بشپړه توگه وچ دی. دا انځور د اروپايي اتحاديې لخوا مالي ملاتړ شوی.